


د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د څېړنو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست

# د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د فعاليتونو او لاسته راوړنو لنډ راپور

Supremecourt.gov.af
@supremeCourt_af
ستره محکمه
Supreme Court ستره محکمه
د افغانستان اسلامي امارت ستره محکمه

د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

الحمدلله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيدنا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

امابعد:

فأعوذ بالله من الشيطن الرجيم

بسم الله الرحمن الرحيم

فقد قال الله تبارک و تعالى :

إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكُم أَنْ تُؤَدُّوا الأَماناتِ إِلى أَهْلِها وَ إِذا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ [النساء، ٥٨]

وَإِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِالْقِسطِ ج إِنّ اللهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ [المائده، ۴۲]

وَلَا يَجرِ مَنّكُم شَنَآنُ قَومٍ عَلَى أَلّا تَعدِلوا اعدِلُوا هُوَ أَقربُ لِلتّقوَى وَاتّقُوا اللهَ إِنّ اللهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعمَلُون [المائده، ٨]


Supremecourt.gov.af @supremeCourt_af ستره محکمه Supreme Court ستره محکمه د افغانستان اسلامي امارت ستره محکمه

## امابعد: درنو لوستونکو او د افغانستان ټول مسلمان ملت ته تر هر څه وړاندي!

دافغانستان اسلامی امارت
ستره محکمه

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

په خورا درنښت، ویاړ او ژمنتیا سره د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې مشرتابه او قضائي ټیم له لوري، د عدالت د تأمین، د ملت د حقوقو د خوندیتوب او د شرعي نظام د پیاوړتیا په موخه د تېر یوه کال د مهمو کړنو او لاسته راوړنو راپور درته وړاندې کوو.

درنوهېوادوالو! عدالت د الهي نظام هغه بنسټ دی چې د ټولنې وجود پرې ولاړ دی. کله چې په یو ټولنیز نظام کې د عقل، مال، عزت او ناموس د ساتنې ضمانت نه وي، هلته د انســان کرامت تر پښــو لاندې کېږي؛ خو د اسلامي شریعت د نافذو اصولو پر بنســټ رامنځته شوی عدالت، نه یوازې د انسان؛ بلکې د ټولې ټولنې د سلامتۍ، امن، او انسجام ضامن دی. تاریخونه دا ښیي چې هر هغه نظام چې د الهي احکامو پر بنسټ نه وي ولاړ او د قضاء عادلانه بنسټونه په کې کمزوري وي، هغه نظام د ظلم، بې‌نظمۍ او حق ضایع کولو په لور درومي. کله چې د قضاوت واک د هوا او هوس تابع شي، قانون یوازې پر کمزورو تطبیق شي او ځواکمن ترې ځان مســـــتثنی وبولي؛ نو دا د ملت د بې‌باورۍ او د نظام د زوال پیل وي.

عدالت هغه الهي اصـــل دی چې د آســـمانونو او ځمکې قیام ور پورې تړل شـــوی، هماغه اصـــل چې د ټول بشریت لپاره بې‌تفاوته، بې‌تعصبه او بې‌استثنا ارزښت لري. دا اصل د انبیاوو (علیهم الســـــلام) د رسالت یوه مهمه موخه او د اسلامي تمدن د بقاء بنســـټ دی. له همدې امله قضـــاوت د اسلامي نظام یوه سپېڅلې او مســــتقله ستنه ده، چې یوازې د اهلیت، امانت، تقوا او دیانت خاوندان باید پرې تکیه وکړي. د افغانســـتان اسلامي امارت سترې محکمې له مقدسې فتحې راهیســـې په پوره تدبیر، شفافیت او ژمنتیا سره هڅه کړې، چې قضـــائي نظام د فســـاد، تعصـــب او ناقانونه نفوذ څخه وساتي او د شریعت پر بنســــــــــټ د عدالت ډېوه روښانه او بله وساتي. درنو لیدونکو او لوستونکو! نن ورځ، دا افتخار لرو چې د دغه خپروني له لارې د سترې محکمې د کلنیو لاسته راوړنو په وسیله، تاسو ته دا څرګنده کړو چې زموږ هڅې، لاسته راوړنې، کړنې او د اصلاحاتو لړۍ څومره مهم دي او د الهي عدالت د تحقق په لار کې څومره ژمنتیا شوې ده؛ سترې محکمې، د هېواد په ټولو ولایتونو او ولســـوالیو کې خپل قضـــائي فعالیتونه ترسره کړي او له قضـــــــــائي عدالت څخه د برخمنېدو حق یې تر ټولو هېوادوالو پورې رسولی دی. ټولو درنو هېوادوالو ته دا ډاډ ورکوو چې کولای شي د خپل حق د ترلاسه کولو په موخه، په ډاډه زړه محاکمو ته مراجعه وکړي؛ ځکه دا محکمې د عدالت د تأمین، شرعي پرېکړو ادرسونه دي. دغه راز، ستره محکمه ژمنه کوي چې د قضـــــــــائي خدماتو اسانتیاوې نورې هم پراخې کړي، د خلکو لپاره اسانه، شفاف، د ډاډ وړ او پر شرعي اصولو ولاړ قضائي خدمات وړاندې کړي، ترڅو عدالت یوازې شعار نه؛ بلکې عمل وي.

## د سترې محکمې تشکیلاتي جوړښت او فعالیتونه:

د افغانستان اسلامي امارت ستره محکمه، د قضــائي عدالت د تأمین تر ستر مسـؤولیت لاندې، د هېواد په ټولو ولایتونو او ولســـــوالیو کې په فعال او دوامدار ډول قضـــــائي فعالیتونه ترسره کوي. دغه اداره د قضائي خدماتو د پراخوالي او د خلکو د ستونزو د حل لپاره نه یوازې ژمنه ده؛ بلکې د موجوده امکاناتو او ظرفیتونو پر بنسټ، په مسلسل ډول د قضـائي سیسـتم اصلاح او پیاوړتیا ته عملي ګامونه پورته کوي.

په تشکیلاتي جوړښت کې، ستره محکمه څلور (۴) معاونیتونه لري: دوه (۲) یې قضـائي (یوه په مرکز او بل په جنوب لوېدیځ زون کـــې)، یو (۱) نظامـــي معاونیت او یو (۱) اداري معاونیت. همدارنګه، دغه اداره دوه (۲) د تمیز عالي ریاستونه لري، چې هر یو یې پر پنځو (۵) دېوانونو مشـــتمل دی؛ یو د تمیز ریاست په مرکز او بل یې په جنوب لوېدیځ زون کې فعال دی.

په مجموع کې، ستره محکمه نولس (۱۹) ریاستونه لري، چې له ډلې یې دولس (۱۲) قضائي او اووه (۷) اداري ریاستونه دي. د یادولو وړ ده چې د تېرو کلونو په پرتله، د سترې محکمـــې مشرتابـــــه د اصلاحاتـــــو د راوستلو په موخه، د قضائي، اداري او د قضـــــاتو د محافظتي قطعې په تشکیلاتو کې مهم بدلونونه راوستي دي.

په ۱۴۴۶ هجري قمري کال کې د سترې محکمې مجموعي تشکیل دیارلس زره، پنځه سوه شپږدېرش (۱۳۵۳۶) بستونه دي، چې له دې جملې:

- دوه زره نه سوه دري نوي (۲۹۹۳) یې قضائي؛
- څلور زره، څلور سوه نه ویشت (۴۴۲۹) یې اداري؛
- او شپږ زره، یو سل او څلوارلس (٦۱۱۴) یې د قضاتو د محافظتي قطعې تشکیلات دي.

د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه

## له دې سره هممهاله، سترې محکمې د هېواد په بېلابېلو ولايتونو او ولسواليو کې د اړتيا پر اساس د محاکمو يو شمېر څانګې فعالې کړې دي، چې له مخې يې:

- ۳۴ ملکي مرافعه محاکم (هره يوه پر پنځو دېوانونو مشتمله)؛
- ۳۴ ښاري ملکي ابتدائيه محاکم (هم پر پنځو دېوانونو مشتمله)؛
- او ابتدائيه ملکي محاکم په ۴۲۲ ولسواليو کې فعاليت ترسره کوي.

په دې سربېره، په ټول هېواد کې د ځمکو د غصب د مخنيوي څلور (۴) ځانګړې محکمې موجودې دي او په کابل ولايت کې د نشـــه‌يي توکو پر وړاندې د مبارزې لپاره يوه فعاله ابتدائيه محکمه شتون لري چې دوه رسمي دېوانونه لري. د نشه‌يي توکو اړوند قضيې په نورو ولايتونو او ولسواليو کې، د هغو اړوندو محاکمو له لوري څېړل کېږي.

## د نظامي محاکمو په برخه کې:

- د نظامي مرافعه محاکمو شـــــمېر شـــــپږ (٦) دی، چې د لومړۍ درجې په ولايتونو کې موقيعت لري؛
- د نظامي ابتدائيه محاکمو شمېر اته (٨) دی، چې په نولســــــــــــو (١٩) ولايتونو کې څانګې لري؛
- او د نظامي منسوبينو لپاره  په تميز او مرافعه محکمو کې د نظامي منسوبينو ديوان هغه دوسيې څېړي.

د يادونې وړ ده چې د قضاء د ځانګړو اړتياوو په پام کې نيولو سره، د حکومتي کارکوونکو د تقاعد د حقوقو د تطبيق او ځانګړې پاملرنې لپاره يوه اختصاصي محکمه هم رامنځته شوې چې پر درېو (۳) دېوانونو مشتمله ده او فعاليت يې پيل کړی دی.

همداراز، د تېرې اداري د ناتطبيق شويو فيصـــلو د ارزونې او څېړنې لپاره، په ټولو ۳۴ ولايتونو کې له وړاندې جوړې شوې اختصـــاصي محکمې لا هم په برياليتوب سره خپل فعاليتونه ترسره کوي، چې د خلکو ډېرې ستونزې يې حل کړې دي. د قضائي خدماتو د لا ښهوالي، په ټاکلي وخت د خلکو د قضيو حل او د شکايتونو د کمښـــت په موخه د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) د ځانګړي حکم له مخې، د محاکمو د اجراآتو لپاره ځانګړې نېټې ټاکل شوې دي: چې په لاندې ډول دي:

۱. ابتدائيه محاکم مکلف دي چې قضيې له يوې نيمې مياشتې ډېرې ونه ځنډوي، او که قاضي معقول شرعي عذر ولري، بايد سترې محکمې ته يې وړاندې کړي.

۲. مرافعه محاکم بايد خپلې قضيې د شلو ورځو څخه تر يوې مياشتې پورې حل کړي.

۳. د تميز رياستونه هم مکلف دي چې خپلې دوسيې تر يوې مياشتې پورې حل او فصل کړي.

د دې حکم تطبيق، نه يوازې د خلکو د ستونزو د چټک حل سبب شوی؛ بلکې د رضايت کچه يې هم لوړه کړې او د اسلامي عدالت د ژمنتيا ښکارندويي کوي.

## د درې ګونو محاکمو د اجراآتو احصائيوي لاسته راوړنې:

د سترې محکمې د قضـــائي فعاليتونو د دوامدارې ارزونې او په قضـــائي چارو کې د شفافيت د تأمين په موخه، د هېواد د ټولو (۳۴) ولاياتو د محاکمو د اجراآتو احصـــــــائيوي معلومات په منظم، ربعوار او کلني ډول راټول شوي، د معلوماتو ډېټابېس ته داخل؛ تر توحيد، ترتيب او تحليل وروسته د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) محترم مقام او نورو اړوندو مقاماتو سره د بعدي تدبير او تصميم نيونې لپاره شريک شوي دي.

د معلوماتو له مخې، د هېواد ابتدائيه، مرافعه او تميز درېګونو ملکي او نظامي محاکمو ته دوه لکه پنځه نوي زره، دوه سوه يو پنځوس (۲۹۵٬۲۵۱) قضيې واردې شوې دي. له دې جملې دوه لکه، نهه دېرش زره، اووه سوه ،پنځه څلوېښت (۲۳۹٬۷۴۵) په ابتدائيه محاکو کې دي، چې يو لک او نهه اويا زره، اووه سوه، شپږ ويشت (۱۷۹٬۷۲۶) ته رسېدنه شوې او شپيته زره، نولس (۶۰٬۰۱۹) نورې تر کار لاندې دي. دوه ديرش زره، يو سل او اووه ديرش (۳۲٬۱۳۷) مرافعه محاکمو کې دي، له دې ډلې درويشت زره، شپږ سوه، اووه شپېته (۲۳٬۶۶۷) قضيو ته رسېدنه شوې او اته زره، څلور سوه اويا (۸٬۴۷۰) نورې تر کار لاندې دي. څوارلس زره، نه سوه اويا (۱۴٬۹۷۰) قضيې د تميز رياستونو ته راجع شوې، چې له دې ډلې يوولس زره، دوه سوه پنځه څلوېښت (۱۱٬۲۴۵) دوسيو ته رسېدنه شوې او پاتې درې زره، اووه سوه پنځه ويشت (۳٬۷۲۵) قضيې تر کار لاندې دي.

د يادونې وړ ده چې په پورته ذکر شوو قضيو کې د نشه‌يي توکو اړوند اته زره، درې سوه نه نوي (۸٬۳۹۹) قضيې هم شاملې دي، چې اته زره، يو سل او يوويشت (۸٬۱۲۱) ته رسېدنه شوې او دوه سوه، اته اويا (۲۷۸( نورې تر کار لاندې دي. د هېواد اختصاصي محاکمو ته درې زره دوه سوه نهه اتيا (۳۲۸۹) قضيې واردې شوې چې اتلس سوه، څلورشپيته (۱۸۶۴) ته رسېدنه شوې او څوارلس سوه، پنځه ويشت (۱۴۲۵) نورې تر کار لاندې دي.

د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه

## د احکامو، فرامینو او مصوباتو د تطبیق او معلوماتو غوښتلو په برخه کې:

د سترې محکمې د عالي مقام د لارښوونو په رڼا کې، د احکامو، فرامینو، مصوباتو د تطبیق او معلوماتو د غوښتلو په برخه کې لاندې مهم اجراآت ترسره شوي دي:

- د ۱۴۴۶ هـ ق کال په اوږدو کې د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) فرمانونه، حکمونه او د اسلامي امارت د کابینې خلورسوه شل ۴۲۰ قطعې مصـوبات سترې محکمې ته رارسېدلي، چې د سترې محکمې د عالي مقام د هدایاتو سره سم پرې اصولي او لازم اجراآت شوي دي. د ریاست‌الوزراء، وزارتونو، امارتي او غیر امارتي بنســــــتونو،شرکتونو، ادارو او بانکونو لخوا سترې محکمې ته ګڼ شمېر مکتوبونه راغلي، چې د عالي مقام د هدایت پر اساس اړوند ادارو ته لېږل شوي او اجراآت پرې شوي دي.

د هېواد د (۳۴) ولایاتو د محاکمو او د مرکزي ریاستونو لخوا سترې محکمې ته د صلاحیت د سپارلو، استهداءګانو، تجدید نظر، د محکمې د تبدیلۍ او د لارښوونو د غوښـتلو په موخه ګڼې دوسیې سپارل شوي، چې د عالي مقام د هدایاتو سره سم پرې اصـولي اجراآت ترسره شوي دي.

- د (۳۴) ولایاتو د مرافعه محاکمو، د ځمکو د غصب د مخنیوي محاکمو، د غصب د مخنیوي کمېسیون او نورو امارتي ادارو لخوا شپږسوه او خلرویشـــت( ٦٢۴) قطعې مکتوبونه د قبالو او نورو حقوقي اسنادو او وثایقو په اړه د معلوماتو غوښتلو په موخه سترې محکمې ته رالېږل شوي، چې د مقررو او اصولو له مخې پرې لازم اجراآت شوي دي.


Supremecourt.gov.af @supremeCourt_af ستره محکمه Supreme Court ستره محکمه د افغانستان اسلامي امارت ستره محکمه

**د میاشتي د لیدلو مرکزي کمېټې فعالیت:** د سترې محکمې تر مشرۍ لاندې د میاشتې لیدو کمېټه منظم فعالیت لري، پر خپل وخت غونډې ترسره کوي او هېوادوالو ته د میاشـــــــتې لیدلو دقیق معلومات ورکوي.

**د محکمې د تبدیلۍ، تجدیدنظر، عرایضو، شکایتونو او متفرقه موضوعاتو ته د رسیدنې په برخو کې:**

د ۱۴۴۶ هـ ق کال په ترځ کې، د سترې محکمې له لورې د جزائي، مدني، تجارتي، فامیلي او متفرقه قضـــــائي موضوعاتو په ګډون، مجموعاً پنځه زره اته سوه درې نوي (۵۸۹۳) بېلا بېلو قضـــــائي او اداري موضوعاتو ته اصولي رسېدنه شوې ده؛ چې په دې کې:

- دوه زره پنځه سوه او څلورشپېته (۲۵٦۴) د محکمې د تبدیلۍ غوښتنې موضوعات؛
- شپږ سوه او یو (٦۰۱) د تجدیدنظر او عرایضو د ارزونې موضوعات؛
- یوزر او څلور سوه او نوي (۱۴۹۰) استهدآآت (د فتوا غوښتنې) موضوعات؛
- اته سوه دیارلس (۸۱۳) د شکایتونو اړوند موضوعات؛
- او یو زر او نه دیرش (۱۰۳۹) متفرقه موضوعات شامل دي.

په یادو برخو کې د اصولي اجراآتو ترڅنګ، د اړتیا له مخې د هېواد ټولو محاکمو ته متحدالمآلونه هم استول شوي دي، څو د قضائي اجراآتو د انسجام او یوشان والي تضمین وشي.

د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د عمومي عامه اړیکو او ویاند لوی ریاست

## د افتاء او استفتاآتو په برخه کې:

په ۱۴۴٦ هـ ق کال کې، (۷۱) استفتاوو ته چې د بېلابېلو ادارو له خوا را استول شوې وې، د شریعت او حنفي فقهې په رڼا کې شرعي ځوابونه چمتو او لېږل شوي دي.

د یادونې وړ ده چې د فتواوو د چارو د لا ښه تنظیم ،تسرــیع او وظیفوي تداخل دمخنیوي په موخه، د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) د حکم له مخې، دارالافتاء ریاستونه په دوو برخو وېشـــــــــــــل شوي دي:

لومړۍ برخه دسترې محکمې دارالافتاء: چې د سترې محکمې تر چتر لاندې فعالیت کوي او په ځانګړې توګه د محاکمو اړوند استفتاآتو ته رسېدنه کوي.

دویمه برخه مرکزي دارالافتاء: چې له محاکمو پرته د نورو ادارو، وزارتونو او ارګانونو استفتاآتو ته ځوابونه برابروي.

په دې سره له یوې خوا د فتواوو په برخه کې د کاري حجم متوازن وېش شوی او له بلې خوا یې د عامو خلکو او امارتي ادارو ستونزو ته په کم وخت کې شرعي او مسلکي ځوابونه برابرېږي.

## د فیصلو صلحې او تطبیق:

د ۱۴۴٦ هـ ق کال په اوږدو کې د محاکمو له خوا د زرګونو حقوقي قضیو، په ځانګړې ډول د قطعي او نهایي فیصله‌نامو، تطبیق او تنفیذ عملي شوی دی؛ د حقوقي پرېکړو د اجرا، د دعوو د اصلاح، او د پایلو د تطبیق په برخه کې مؤثر او عملي اقدامات ترسره شوي دي، خو د عدالت تأمین تضـــــمین شي.

همداراز، د قضـــــــیو د زیاتوالي د مخنیوي، د خلکو د رضایت د لوړولو او د قضـــــــائي چارو د چټکتیا په موخه، د صلحې له لارې اووه پنځوس زره، نه سوه نولس (۵۷،۹۱۹) قضیې حل او فصل شوې دي، چې دا د قناعت او تفاهم پر بنسټ د شخړو د حل یو مهم اقدام ګڼل کېږي.

په دې سربېره، په تېر یوه کال کې د هېواد د ټولو (۳۴) ولایتونو په کچه، مجموعاً دوه لکه، نه دیرش (۲۳۹،۰۶۳) زره او درې شپېته حقوقي عرایضو ته رسېدنه شوې ده.

## په قضائي او اداري برخو کې د اړوندکارکوونکو ظرفیت لوړونه:

په ۱۴۴۶ هـ ق کال کې د سترې محکمې له لوري د قضائي او اداري ظرفیت د لوړولو په هدف ګڼ شمېر روزنیز پروګرامونه او مسلکي سیمینارونه تنظیم او تطبیق شوي دي.

**الف: قضـــــــائي برخه کې ظرفیت لوړونه:** په دې لړ کې، د هېواد د (۳۴) ولایتونو اړوند محاکمو لپاره نوي مقرر شوي (۳۶۴) (قاضیانو، مفتیانو او محررینو ته ځانګړي علمي او مســـــــلکي روزنیزو پروګرامونو جوړ شوي.

**ب: په اداري برخه کې ظرفیت لوړونه:** د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جریان کې د ســــــترې محکمې (۲۵۲۹) اداري کارکوونکو ته د رهبرۍ او مدیریت، اداري او کمپیوټر اړوند مهارتونو تر عنوان لاندې تخصصي سیمینارونه جوړ شوي دي.

## د مقرراتو او قانوني اسنادو د تحلیل او ترتیب راپور:

په ۱۴۴۶ هـ ق کال کې د افغانســتان اسلامي امارت د وزارتونو او امارتي خپلواکو ادارو له خوا ترتیب شوي (۳۵) مقررې او اصولي سندونه، د اصولي سندونو د نهايي کتنې خپلواک کمېسیون لخوا د تحلیل، ارزونې او حقوقي اصلاح په موخه وکتل شول او د توشېح لپاره د مشرتابه محترم عالي مقام ته واستول شول.

دغه راز، د سترې محکمې د لوړ رتبه مسلکي پلاوي لخوا ( ۱۷) ټوله مسودې، قوانین او کړنلارې ترتیب شوې، چې د قضائي نظام د لا پیاوړتیا، انسجام او حقوقي وضاحت لپاره مهم ګام ګڼل کېږي.

په دې سربېره، د بېلا بېلو اداري او قضـــائي موضوعاتو په تړاو، (۷۰) تدقيقي او مطالعاتي نظريات د اړوند ادارو غوښتنو ته په ځواب کې چمتو او وړاندې شوي دي، چې ياد نظريات د قضائي چارو د روښانه تفسير، تطبيق او شفافې تصميم نيونې لپاره ارزښتناک اسناد ګڼل کېږي.

## د قضائي تفتيش په برخه کې:

په ۱۴۴۶ هـ ق کال کې، د سترې محکمې د قضائي تفتيش مسؤولينو له لوري د قضاء په چارو کې د شفافيت، د خلکو د رضايت ترلاسه کولو او د نواقصو او خلاوو د رفع کولو په موخه د محاکمو عادي او اقتضائي تفتيش ترسره کړی دی چې جزئيات يې په لاندې ډول دي:

### الف ــ عادي تفتيش:

- د سترې محکمې د قضـائي تفتيش مســؤولينو له لوري د هېواد د (۳۴) ولايتونو د محاکمو تفتيش او حقوقي ارزونه ترسره شوې ده. د محاکمو د عادي تفتيش عمده موخه د قضائي چارو شفافيت، د سترې محکمې د عالي شورا د اصولو او مقرراتو تطبيق او د خلکو شکايتونو ته رسېدنه ده، چې د يادو تفتيشونو راپورونه د سترې محکمې عالي مقام ته وړاندې شوي دي.
- دغه راز، د سترې محکمې د قضــائي مفتشـــينو له لوري د ولايتونو له زندانونو او توقيفخونو څخه ليدنې او تفتيش ترسره شوی، چې له مخې يې د زرګونه زندانيانو ستونزې، شکايتونه او وړانديزونه راټول او د سترې محکمې محترم عالي مقام سره شريک شوي دي، چې په اړه يې اصولي اقدامات ترسره شوي دي.

## ب ــ اقتضائي تفتیش:

- د سترې محکمې د عالي مقام د هدایت له مخې، د مرکز او ولایتونو د محاکمو د اجراآتو (۱۰۰۰) اقتضائي موضوعات د ارزونې او تفتیش لپاره د قضائي تفتیش څانګې ته راجع شوي دي چې له یادو موضوعاتو څخه (۸۸۷) موضوعات د نافذه اصولو او مقرراتو مطابق څېړل شوي، تفتیش یې شوی او په اړه یې لازم اجراآت ترسره شوي دي. پاتې موضوعات تر کار لاندې دي.

## د وثایقو په برخه کې:

- د ۱۴۴٦ هـ ق کال په جریان کې د ټولو ولایاتو محاکمو یو لک، دوه نوي زره، نه سوه اته (۱۹۲۹۰۸) قطعې وثایق اجرا کړي دي.

## • د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو په برخه کې:

د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست د ۱۴۴٦ هجري قمري کال په جریان کې یو لړ مهم، ګټور او اغېزناک فعالیتونه ترسره کړي دي، چې د قضـائي نظام د لا ښه معرفت، د قضـائي بنســـټونو د شفافیت او د عامه پوهاوي د لوړولو په برخه کې ارزښتناک رول لري، چې مهم فعالیتونه یې لاندې ذکر شوي:

### ۱. د بهرنیو اړیکو پراختیا او همغږي:

په بېلابېلو موضوعاتو کې له نړیوالو بنســـټونو او په کابل کې مېشـــتو سفارتونو سره د همغږۍ ګڼ شمېر ناستې تنظیم شوې، چې له مخې یې د سترې محکمې د دریځ، اهدافو او فعالیتونو اړوند وضاحت ورکړل شوی؛ له داخلي او خارجي رسنیو سره دوامداري اړیکې ساتل شوې دي.

## ۲. چاپي خپروني:

د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جريان کې د قضـــاء مجلې دري ګڼې (له شپږمې تر اتمې ګڼې) او د ميزان جريدې ۳۲ ګڼې (له ۷۰ تر ۱۰۳مې ګڼې) چاپ او د هېواد اړوندو محاکمو، وزارتونو او بېلابېلو امارتي ادارو ته وېشل شوي دي.

## ۳. د محاکمو د فعاليتونو خپرول او ولسي پوهاوی:

- **ورځني خبرونه:** د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جريان کې د هېواد په رسمي ژبو (پښتو او دري) سربېره په انګلسي او عربي ژبو شاوخوا (۱۵۰۰) خبرونه جوړ او نشر شوي دي.
- **ستره محکمه په اونۍ کې:** د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جريان کې په څلورو ژبو (۱۴۴) خپروني ثبت، اډيټ او نشر شوي دي.
- **د سترې محکمې د مرکزي رياستونو پېژندنه:** د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جريان کې د سترې محکمې د مرکزي رياستونو د پېژندنې (څلور) ځانګړې خپروني ثبت، اډيټ او نشر شوي دي.
- **ولس او قضاء:** د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جريان کې د ولس او قضاء (۹) خپروني ثبت، اډيټ او نشر شوي دي.
- **انفوګرافيک:** د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جريان کې د دريو ګونو محاکمو د قضائي اجراآتو اړوند (۵۱۰) انفوګرافيک جوړ او په رسمي ادرسونو نشر شوي دي.
- **د اجراآتو خلاصه:** د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جريان کې د محاکمو د نشر شوو خبرونو خلاصه (۷۶۱) ډيزاينونه جوړ او نشر شوي دي.

- **د رؤیت هلال کمېټې اعلامیې:** د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جریان کې د رؤیت هلال مرکزي کمېټې د ۱۲ ناستو وروستي اعلان د اعلامیې په ډول ډیزاین او نشر شوي دي.
- **خبري کلیپونه:** د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جریان کې د رسنیو د تقاضا او اړتیا په صورت کې شاوخوا (۲۵) خبري کلیپونه ثبت او د نشر په موخه بېلا بېلو رسنیو ته لېږل شوي دي.
- **د توزیع برخه کې:** د ۱۴۴۶ هـ ق کال په جریان کې د میزان جریدې (۴۸۰۰۰) جلده او د قضاء مجلې (٦۰۰۰) جلده بېلا بېلو ادارو، د وزارتونو د نشراتو ریاستونو، خپلواکو ادارو، مرافعه، ښاري ابتدائیه او ولسوالیو ابتدائیه محاکمو، په ولایتونو کې د عدلیې، اطلاعات او کلتور ریاستونو او ولایت مقام ته توزیع شوي دي.

## ۴. د قضاء کتابتون عصري کول او علمي منابعو ته لاسرسی:

د سترې محکمې قضاء کتابتون په ۱۴۴۶ هـ ق کال کې په عصري ډول ډیزاین او ترتیب شو، چې په کې له شپږ زره زیات د تفسیر، حدیث، فقهې، حقوقو او نورو برخو اړوند کتابونه ثبت او ډېټابېس ته اندراج شول.

## د سترې محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو په برخه کې:

### ۱. د محاکمو امنيت ته ژمنتيا:

د سترې محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو قطعه، چې د سترې محکمې د قضـــــــائي او اداري پرسونل د امنيت مسؤوليت لري، د هېواد د ۳۴ ولايتونو په محاکمو کې يې د امنيت د تأمين په برخه کې ارزښتناک رول ترسره کړی دی. د يادې قطعې د هڅو په پايله کې، د تېر يوه کال په موده کې نه په مرکزي او نه هم په ولايتي محاکمو کې امنيتي پېښـــــه رامنځته شوې، چې دا د امنيتي قطعې د مجاهدينو د ښه فعاليت څرګند ثبوت دی.

### ۲. په نظامي برخه کې د امنيتي قطعې د مجاهدينو ظرفيت لوړونه:

د ۱۴۴٦ هـ ق کال په جريان کې د ســـــترې محکمې امنيتي او اجرائيوي چارو رياســـــت اړوند د خالد بن وليد (رضـــــیاللهعنه) معســـکر له لارې، د سترې محکمې د امنيتي قطعاتو د مجاهدينو د روزنې او مســـلکي ظرفيت لوړونې په موخه، يو لړ نظامي، مســـلکي او تعليمي پروګرامونه جوړ او شاوخوا ٦۳۰ مجاهدين ترې فارغ شوي دي. په دې سربېره د نظامي قطعاتو اداري پرسونل ته هم د مســـــلکي مهارتونو د لوړونې په برخه کې يو شمېر سيمينارونه او روزنيز پروګرامونه جوړ شوي دي. دغه راز د ياد رياست اړوند امنيتي مجاهدينو ته په روغتيايي، تخنيکي، تعليمي، ښوونيز او د نظامي زده کړو لپاره د ميدان جوړولو او نورو برخو کې لازم خدمات ترسره شوي دي.

## ۱. مالي، معاشاتي او عايداتي چارې:

**• د مرکز او ولایتونو د کارکوونکو میاشتني معاشونه منظم اجرا شوي.**

• له فتحې څخه مخکې د عادي بودجې پنځه میلیون، اووه ســوه دري نوي زره، شــپږ ســوه څلور اویا افغانۍ (۵,۷۹۳,٦۷۴) او د انکشافي بودجې (۴۹,۰۰۵) نهه څلوېښت زره او پنځه افغانۍ پاتې مقروضیتونه اجرا شوي دي.

• د زاړه ســـــامان آلاتو او داغمه موټرو د لیلام له لارې (۲,۹۷۳,۵۰۰) دوه میلیون، نهه ســــوه دري اویا زره، پنځه سوه افغانۍ عواید ترلاسه او د اسلامي امارت خزانې ته انتقال شوي دي.

• د ســترې محکمې لپاره د مالیې وزارت لخوا د (۱,۰۰۰,۰۰۰) یو میلیون افغانۍ عوایدو پلان ټاکل شــوی و؛ خو ستره محکمه توانېدلې چې (۵,۰۹۳,۳۰٦.۱۱) پنځه میلیون، دري نوي زره، دري سوه شپږ اعشاریه، یوولس افغانۍ عواید راټول او د امارت خزانې ته انتقال کړي.

## ۲. د اسنادو چاپ، وېش او سیستم سازي:

• د ټول هېواد محاکمو ته (۲۱) ډوله شرعي اسناد، چې (۱۰۴,۴۰۰) یو سل څلور زره او څلور سوه نکاحخطونه، (٦,۱۱۱)شپږ زره، یو سل یوولس جلد مختلف شرعي وثایق او سل (۱۰۰) جلده شرعي قبالې په کې شامل دي، د امارتي صکوکو مطبعې له لارې چاپ او د مرکز په شمول د هېواد ټولو محاکمو ته د اجرا په موخه وېشل شوي دي.

• د سترې محکمې اړوند بېلا بېلو برخو لپاره (۱۸) ډوله ډیټابیس سیستمونه جوړ شوي دي

## ۳. تدارکاتي، ساختماني او ترمیماتي چارې:

• د سترې محکمې مشرتابه د قضائي او اداري خدماتـــــو د معیاري کولو، بنسټیزو اسانتیاوو د رامنځته کولو او پراخولو په موخه، د تېر کال په اوږدو کې پراخې ســـاختماني، ترمیماتي او تجهیزاتي پروژې تطبیق کړې دي. په دې برخو کې د اړتیا له مخې د سترې محکمې اړوند ملکي او امنیتي برخو لپاره (۱۵) دوله قراردادونه لاسلیک شوي، له کابل ښاروالۍ سره په همغږۍ د سترې محکمې، ښار جوړولو وزارت، پوستي خاني او درېیم مکرویان بلاکونو اړوند د عمومي سړک قیرریزي او پیاده رو (پلي لارې) يې جوړې شــوې دي. دغه راز په ســتره محکمه، د کابل ښـــــاري ابتدائیه محکمه، لوګر او زابل ولایتونو مرافعه محاکمو ته پنځه جوماتونه جوړ یا پراخ او ترمیم شوي دي، د قضـــــائي زده کړو ریاست لپاره دوه پوره معیاري جومات چې په یو وخت د (۵۰۰) لمونځ کوونکو ظرفیت لري، د کابل ښـــار د اوومې ناحیې اړوند وثایقو د ثبت امریت لپاره نوې ودانۍ، د سروبي، ده ســـبز، بګرامي، شکردرې، چهار آسیاب او میربچه کوټ ولسوالیو د محاکمو لپاره ودانۍ جوړې یا ترمیم شوې، سولري برېښنايي سیستمونه يې نصب او فعال شوي، د امنیتي قطعې نیمه کاره ودانۍ تکمیل شوې، د برېښنـا سیسـتمونه معیاري شوي او د قضـائي زده کړو ریاست په انګړ کې لوی مجهز تالار جوړ شوی دی.

## ۴. د نظارت، امنیت او ټکنالوژۍ برخه:

• د امنیت د ټینګښت او د چارو د لاښهوالي په موخه د کابل ولایت د مرافعه محکمې د مخزن آمریت، د سترې محکمې د آرشیف، د خلورو زونونو د ابتدائیه محاکمو او قضائي زده کړو ریاست لپاره نظارتي کامرې او امنیتي سیستمونه نصب او فعالو شوي دي.


Supremecourt.gov.af @supremeCourt_af ستره محکمه Supreme Court ستره محکمه د افغانستان اسلامي امارت ستره محکمه

- د چارو د چټکتیا او لا همغږۍ په موخه د امنیتي چارو ریاست لپاره د آي ایم ایس (IMS) ټلیفوني شبکې سیسـتم فعال شوی دی. د پورته یادو شویو فعالیتونو له لارې، د سترې محکمې د مالي او اداري چارو عمومي ریاست نه یوازې د قضـــــــائي او اداري خدماتو کیفیت لوړ کړی؛ بلکې د اسانتیاوو پراخولو، عوایدو زیاتولو، اسنادو تنظیم او بنســـــتیزو خدماتو په برخه کې یې ګټور اقدامات هم ترسره کړي دي، چې د سترې محکمې د موخو د تحقق او عدالت د تأمین په لور یو مهم ګام ګڼل کیږي.